# مَا مِنْ نَبِيٍّ بَعَثَهُ اللهُ فِي أُمَّةٍ قَبْلِي إِلَّا كَانَ لَهُ مِنْ أُمَّتِهِ حَوَارِيُّونَ، وَأَصْحَابٌ يَأْخُذُونَ بِسُنَّتِهِ وَيَقْتَدُونَ بِأَمْرِهِ

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «مَا مِنْ نَبِيٍّ بَعَثَهُ اللهُ فِي أُمَّةٍ قَبْلِي إِلَّا كَانَ لَهُ مِنْ أُمَّتِهِ حَوَارِيُّونَ، وَأَصْحَابٌ يَأْخُذُونَ بِسُنَّتِهِ وَيَقْتَدُونَ بِأَمْرِهِ، ثُمَّ إِنَّهَا تَخْلُفُ مِنْ بَعْدِهِمْ خُلُوفٌ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ، وَيَفْعَلُونَ مَا لَا يُؤْمَرُونَ، فَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِيَدِهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِلِسَانِهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِقَلْبِهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلَيْسَ وَرَاءَ ذَلِكَ مِنَ الْإِيمَانِ حَبَّةُ خَرْدَلٍ». «زما نه مخکې الله تعالی هیڅ یو امت ته پیغمبر نه دی لیږلی مګر دا چې هغه لره به د خپل د امت څخه ځانګړي ملګري (حواريان) وو او داسې ملګري چې د هغه په سنتو به يې عمل كاوه او د هغه د اوامرو پيروي به يې كوله، بيا له هغوی پسې داسې ناکاره وارثان پريږدي چې هغه څه به وايي چې خپله يې نه کوي، او هغه څه به کوي چې په هغې ورته امر نه کيږي، نو چا چې ورسره په لاس جهاد وکړ هغه مؤمن دی، او چا چې ورسره په ژبه جهاد وکړ هغه مؤمن دی، او چا چې ورسره په زړه جهاد وکړ هغه مؤمن دی، او لدې وروسته د شړشم د دانې په اندازه ایمان هم نه شته».

[صحيح] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې الله تعالی هېڅ داسې پیغمبر په پخوانیو امتونو کې ندی رالیږلی مګر دا چې هغه به د خپل امت څخه ځینې خاص ملګري، ملاتړي، مجاهدین او مخلصان درلودل چې له هغوی وروسته به يې د خلافت وړتيا درلوده؛ د هغوی په سنتو به يې عمل کاوه، د هغه له اوامرو څخه به يې پيروي کوله، بیا به وروسته د هغوی نيکانو سلفو پسې داسې خلک راشي چې هېڅ خبر به پکې نه وي؛ هغه څه به وايي چې عمل پرې نه کوي او هغه څه به کوي چې امر ورته پرې نه کيږي؛ نو چا چې ورسره په لاس جهاد وکړ هغه مؤمن دی او چا چې ورسره په ژبه جهاد وکړ هغه مؤمن دی او چا چې ورسره په زړه جهاد وکړ هغه مؤمن دی او له دې وروسته د شړشم د دانې په اندازه ایمان نشته.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3480